# د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش




لیکوال:
پوهاند غلام جیلاني عارض
ژباړه، سریزه، زیاتوالې او تعلیقات:
څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش
څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

# The History of : Borders of Afghanistan

Professor Ghulam Jilani Ariz
Translated by: Professor Dr. Mohammad Sharif Zadran

2023

ISBN 978-9936-661-10-3

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ویش

**لیکوال:** پوهاند غلام جیلاني عارض
**ژباړه، سریزه، زیاتونې او تعلیقات:** څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

## د کتاب ځانګړنې:

**د کتاب نوم:** د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش

**لیکوال:** پوهاند غلام جیلاني عارض

**ژباړن:** څېړنپوه دکتور محمد شریف ځدراڼ

**ایډیټ او اهتمام:** څېړنوال دکتور رفیع الله نیازی

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**چاپ کال:** ۱٤٠۱ل / ۱۴۴۴ هـ ق

**دچاپ ځای:** لایف ستار مطبعه، کابل- افغانستان

ISBN : ۳- ۱۰- ٦٦۱- ۹۹۳٦- ۹۷۸

**د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**سرلیک** **مخګڼه**


**د ژباړن سریزه ........................ أ**

**مخکینۍ خبرې ........................ ۱**

**د افغانستان سرحدونه ........................ ۳**

عمومي بڼه ........................ ۳

د سرحدونو ډولونه ........................ ٦

موقعیت ........................ ۹

ریاضي موقعیت ........................ ۱۰

نسبي موقعیت ........................ ۱۱

ستراتېژیکي موقعیت ........................ ۱۲

پاروپامیزاد ........................ ۱۳

د سرحدونو ساتنه او د سیاسي نظامونو ډولونه ........................ ۱۸

پراخ هېوادونه او فدرالي سیستم ........................ ۲۳

د افغانستان د سرحدونو د بدلون بهیر ........................ ۲٦

د افغانستان سرحدونه له میلاد څخه په وړاندې دورو کې ........................ ۲۷

په یوناني باختري دوره کې د افغانستان سرحدونه ........................ ۳۱

د خراسان سرحدونه ........................ ۳۲

د محمود غزنوي پر مهال د افغانستان سرحدونه ........................ ۳۵

د احمد شاه دراني د سرحدونو بریدونه او حدود ........................ ٤۰

د امیر شېر علي خان پر مهال د افغانستان سرحدونه ........................ ٤٦

وروستۍ پېښې ........................ ٤۷

د نویو اداري زونونو تشکیلات ........................ ۵۹

د افغانستان د موقعیت تاریخي ارزښت ........................ ٦۲

د افغانستان د سرحدونو څرنګوالی ........................ ٦۸

۱- د شمالي سرحدونو ټاکل ........................ ۷۱

ـ د گورجاکوف او گرانویل کرښه ۱۸۷۳م. ........................ ۷۱
د ریجوي کرښه ........................................ ۷۲
درقد ........................................ ۷۳
۲- د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحدونه ........................ ۷۴
د گندمک معاهده ........................................ ۷۵
د ډیورنډ معاهده ۱۸۹۳میلادي ........................ ۸۰
لومړی معاهده ........................................ ۸۲
دویمه معاهده ........................................ ۸٤
۳- لوېدیځ سرحدونه ........................................ ۸۹
د گولډ سمیت منځگړیتوب ........................................ ۹۰
خاک ماحول ........................................ ۹۰
فخري کرښه ........................................ ۹۱
۴- شمال ختیځ سرحدونه ........................................ ۹۳
د افغانستان د سرحدونو لنډیز ........................ ۹٤
د امیر شېر علي خان سرحدي کرښه ........................ ۹٤
د ریجوي سرحدي کرښه ........................................ ۹۵
د پامیر سرحدي کرښه ........................................ ۹۵
د ډیورنډ تحمیلي او فرضي کرښه ........................ ۹٦
د مکمهن سرحدي کرښه ........................................ ۹٦
فخري سرحدي کرښه ........................................ ۹٦
شمال ختیځ سرحدي کرښه ........................................ ۹٦
مأخذونه ........................................ ۹۸
**تعلیقات ........................................ ۱۰۱**
**مأخذونه ........................................ ۱۲۷**

# د ژباړن سریزه

د محترم پوهاند غلام جیلاني عارض اثر «د تاریخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري وېش» یوه کوچنۍ جغرافیایي او تاریخي رساله ده، خو په معنوي لحاظ د افغانستان د سرحدونو او اداري وېش په برخه کې یو په زړه پورې لنډ او علمي اثر دی چې له هېواد والو سره د خپلې جغرافیې او تاریخ په پېژندلو کې ډېره مرسته کوي.

د افغانستان پخوانی نوم «آریانا» و او د دغه نوم یادونه «اراتسفن» له میلاد څخه درې پېړۍ وړاندې کړې ده. دغه راز په څلورمه او پنځمه میلادي پېړۍ کې «موسس خورنی» او په دې وروستیو کې «بیلیو»، «بارتولد» او نورو د دې نامه یادونه کړې ده. همدارنگه په اسلامي دوره کې «خراسان» د آریانا د نامه ځای ونیو او تر نولسمې میلادي پېړۍ پورې پر اوسني افغانستان باندې اطلاق کېده، د اسلام د دورې مؤرخینو، لکه ابوالغدا، ابن خردادبه، بیهقي، گردېزي، خواند امیر او په لسگونو نورو پوهانو د دې نوم یادونه کړې ده، بالاخره د «افغانستان» نوم په نولسمه پېړۍ کې پراختیا وموندله او د خراسان د نامه پر ځای دود شو چې اوس د دې هېواد یو ملي او رسمي نوم دی (۱: ۱مخ)

باید ووایو چې آریانا، خراسان او افغانستان درې واړه نومونه له یوه سیاسي هویت څخه عبارت دي او یا په بل عبارت زموږ د ټاټوبي درې هویتونه دي چې د یوې جغرافیې لپاره د تاریخ په مختلفو دورو کې استعمال شوي دي. په واقعیت کې ملي هویت په تاریخي هویت کې لیدلای شو یعنې په واحده جغرافیه (هېواد) او گډ تاریخ کې په لاس راځي، وده مومي او تر لوړو پوړیو پورې پرمختگ کوي. که څه هم د افغانستان د

جغرافيې سرحدونه کله پراخ شوي او کله محدود شوي، خو د سرحدونو محدودوالي زموږ د هېواد تاريخي هويت کم کړی نه دی، بلکې د تاريخ په اوږدو کې يې خپل اصليت ساتلی دی. (۲: ۳۷۴-۳۷۵ مخونه)

د افغانستان نوميالی مؤرخ او لرغونپوه علامه کهزاد ليکي چې زموږ هېواد لومړی ځل اراتس تنس (Eratosthenes) د قبل الميلاد درېيمې پېړۍ په نيمايي کې «آريانا» ونوماوه. وروسته «استرابو» يې حدود وټاکل او «بطليموس» يې (۷) ولايتونه او اوسېدونکي راوپېژندل. اروپايي ليکوالانو په ۱۸-۱۹ پېړۍ کې د «ويلسن» د اثر «آريانا انتي کوا» پر بنسټ دغه هېر شوی نوم ژوندی کړ. بيليو په خپلو آثارو سره د آريانا نوم په ژبو کې رواج کړ. (۳: ۱۵۳ مخ)

اراتس تنس او استرابو د آريانا څلورخواوې داسې ټاکي: د آريانا ختيځ حدود د اندوس يا سند سيند، جنوبي حدود يې لوی اوقيانوس- د هند سمندر، د شمال په لوري د آريانا بلخ مرواريد او د پارو پاميزوس غر او د هغو غرونو لړۍ چې د هند له شمال څخه د خزر تر دربند پورې غزيدلې. په لوېديځه برخه کې هغه کرښه چې «پارتيا» له «مديا» او «کرمان» له «پارس» او «پارتکنه» څخه بېلوي. په دې ډول د آريانا حدود د اوستا او کلاسيکو يوناني مؤرخينو له نظره يو شان دي او تر منځ يې توپير نه شته. د فردوسي ايران هماغه د «اراتس تنس» او «استرابو» آريانا دی. (۳: ۱۵۳-۱۵۸ مخونه)

انګرېز ختيځپوه ولسن (H.H. Wilson) په خپل مشهور اثر آريانا انتيکوا (Ariana Antiqua) کې ليکي: « د زړې يا پخوانۍ آريانا ډېره برخه د اوسني افغانستان د تاريخي جغرافيې په حدودو کې واقع شوې ده.» (۴) يعنې اوسنی افغانستان تر زياتې کچې پورې هماغه پخوانۍ او لرغونې آريانا ده. دغه راز فرانسوي تاريخپوه او څېړونکی دوګو پينو ليکي: «د آريايي قومونو او قبيلو د ځرنګوالي د پېژندلو لپاره افغانستان تر ټولو غوره سيمه ده

چې د کتنو او څېړنو لپاره ډېر ښه مواد یا عناصر په کې موندل کېدای شي، څکه چې د نړۍ اوسنیو پرمختګونو لا تر اوسه هغو څېزونو ته کوم زیان نه دی رسولی او لرغونی فرهنګ او کلتور لا د مدنیت د رڼا له امله خپل اصلي رنګ او بڼه له لاسه نه ده ورکړې» (۴) هانري والتېر بیلیو لیکي: «دغه هېواد چې اوس افغانستان بلل کېږي د لرغونو یونانیانو له خوا د آریانا په نامه یاد شوی دی» (۵: ۸٦ مخ)

د اوستا له موثقو اسنادو ښکاري چې اوستایي هېواد د سیر، سند (اباسین)، د هند اقیانوس او لوط دښتې تر منځ یو هېواد جوړ کړی و چې هماغه وخت یې د آریانا هېواد په نامه شهرت درلود. د اوستا په حواله د دغه هېواد په ختیځ کې د ګلګت له سیمې څخه تر هند اقیانوس پورې چې ټوله د هند حوزه په کې شامله وه او په لوېدیځ کې د کسپین بحیرې له ختیځې څنډې پیل او د بلوچستان په ګډون د هند له سمندر سره نښلېده. په شمال کې د سیر سیند (سیحون) او په جنوب کې د هند له سمندر سره لګېده. دغه هېواد (آریانا) د ختیځ طول البلد د ۵۵ درجو او ۳۰ دقیقو او ۷۵ درجو او ۵۰ دقیقو تر منځ او د شمالي عرض البلد د ۲۵ درجو او ۴۰ دقیقو او ۴۰ درجو او ۵۵ دقیقو تر منځ واقع و.

اوستا دغه هېواد هماغه وخت په لاندې (۱٦) برخو او ولایتونو باندې وېشلی و:

۱) اریان ویجو (د آمو او سیرسیندونو ترمنځ)، ۲) سغده (سغدیان)، ۳) مورو (مرغاب او مرو)، بخدي (بامي بلخ)، ۵) نیسا (میمنه)، ٦) هرویوه (هرات)، ۷) ویکراته (د کابل حوزه)، ۸) اروا (Urva) د سند او کندهار ترمنځ غرنۍ سیمه، ۹) خننتا (ګرګان)، ۱۰) هره وتي (ارغنداب)، ۱۱) هیتومنت (هیرمند)، ۱۲) راغا (بدخشان)، ۱۳) کخره (غزني). ۱۴) رانګا، ځیني مؤرخین دغه ځای په سیرسیند کې ښیي. ۱۵) وارنا (بامیان او بند

امیر)، ١٦) هبتا هندو (حوزه سیند). (١٧: ٣-٥مخونه)

د خراسان کلمه د اسلام له راتګ څخه وړاندې موجوده وه، په پنځمه میلادي پیړۍ کې موسی خورني (Moses Xorenai) د ارمنستان په تاریخ کې یاده کړې وه او یفتلي شاهانو په خپل وخت کې د «خراسان خوتای» په نامه یاد کړی او دغه لقب یې په خپلو مسکوکاتو کې کارولی دی. دغه راز کریستن سن (Christensen) عقیده لري چې د خراسان کلمه په ساساني پهلوي ژبه کې د کوشانیانو هېواد ته یعنې د هماغه وخت افغانستان ته استعمال شوې او بونیفاسیو (Boni Facio) د خراسان کلمه د عربو جغرافیه پوهانو د قول په استناد لمریز هېواد ته ویلې ده. (٥: ٦٠-٦١ مخونه)

جاوید د حافظ ابرو د اثر (جغرافیای تاریخي خراسان د نهم مخ) په حواله لیکي: خراسان د یوه هېواد نوم دی او دغه مملکت پراخ قلمرو لري. ختیځ حد یې د آمو منبع، د بدخشان غرونه د تخارستان او بامیان غرونه او د غزني او کابل سیمې او د غور د غرونو شا و خوا چې د هیرمند منبع دي. لوېدیځ حد یې هغه بیابان (دښته) چې د خوارزم او خراسان تر منځ واټن جوړوي او د دهستان او جرجان حدود د خزر تر بحیرې پورې او د قومس او ري حدود پراته دي. د خراسان شمالي سرحد له جیحون سره نښلي چې د آمو سیند دی او بخارا چې د سامانیانو د سلطنت پر مهال پایتخت و چې دې خوا ته یې آمو سیند او هغې بلې خوا ته ماوراء النهر ویل کېده. د خراسان جنوبي حدود تر سند (اباسین) رسېدل، کابل، غزني او د سیستان سیمې او د فارس بیابان (د کرمان او خراسان ترمنځ واټن). (٥: ٦٥ مخ)

خراسان د لوېدیځ په مقابل کې ختیځ دی. خراسان په قدیمي فارسي کې د ختیځ هېواد په معنا دی. دغه نوم د منځنیو پیړیو په پیل کې په کُلي

ډول پر ټولو اسلامي ولایتونو چې د کویرلوت په ختیځه برخه کې د هند تر غرونو پراته وو اطلاق کېده او په دې ډول د ماوراء النهر ټوله سیمه په شمال ختیځ کې له سیستان او قهستان څخه پرته په جنوب کې شامل وو. د خراسان خارجي حدود په منځنۍ آسیا کې د چین دښتې او پامیر او د هند له خوا هندوکش وو، خو وروسته دغه حدود دقیق او کوچني شول او تر هغه چې خراسان په منځنیو پېړیو کې د آریانا له ولایتونو څخه یو ولایت و او له شمال ختیځ او د آمو سیند آخوا په کې نه شاملېده و، دغه راز د هرات شاو خوا ټول ارتفاعات چې اوس د افغانستان شمال باختري برخه جوړوي په کې شامل و. دغه راز د حدود العالم لیکوال لیکي چې خراسان هغه ختیځې سیمې دي چې له هندوستان سره لګېدلي دي... (٦: ٩٦٣٤-٩٦٣٥ مخونه)

ساسانیانو د پارتیا نوم په خراسان عوض او عام کړ، ځکه پارسیان له پیله د پارتیانو مخالف وو، پارتیان په اصل کې د داهي (Dahi) قوم د پارني یا اپرني (Aparni) څانګې خلک وو چې د ساکا (سهاکو) مساګیتا قوم ته منسوب وو او په دهستان کې د پوونده وو په شان اوسېدل او پارسیانو د هغو واکمني بېګانه ګڼله. که څه هم هغوی څه کم پنځه پېړۍ واکمني وکړه او د پارسیانو ژبه یې هم زده کړې وه. داسې ښکاري چې ساسانیانو پارتیا د دې لپاره خراسان ونومولـه چې د ساکانو هویت له منځه یوسي، ځکه چې خراسان جغرافیاوي مفهوم لري چې نسبت یې د هغه اوسېدونکیو ته نه کېږي. زموږ په عصر کې هم اروپایان لوېدیځه آسیا د منځنۍ ختیځ او ختیځه آسیا د لېرې ختیځ په نومونو یادوي، خو نه دغه نومونه او نه خراسان د خپلو اوسېدونکو معرف کېدلای شي. په داسې حال کې چې پارتیا د ساکا د خلکو هېواد پېژندل شوی و او پارسیانو ورته اشکانیان ویل. د خراسان نوم چې د لمر خاته ملک په معنا دی، دلیل یې دا دی چې خراسان د ساسانیانو د هېواد یعنې د پارس په ختیځ کې پروت دی. (١٣: ١٤٧-١٤٩ مخونه)

د آريانا او خراسان تر څنګ لرغوني افغانستان د اوروا، روه، پکتيکا، پکتيا، پښتونخوا او د افغانستان په نامه هم ياد شوی دی. د بېلګې په توګه د اوېستا د «ونديداد» په برخه کې لرغونې او تاريخي آريانا په (١٦) ولايتونو وېشل شوې ده او اتم ولايت، يا سيمې د اوروا يا روه او پکتيکا په نامه شهرت درلود او د هندي آريايانو د لرغوني اثر (مهابهاراته) په ٢٦ سبها کې د روه ذکر په «لوها» سره شوی دی. د اوستا (Urva)، د مهابهاراته (لوها)، د پاڼي نې. (۵۳۰ق.م.) (روه) د اسلامي دورې پښتونخا او پښتونخوا د تلفظ او د جغرفيې له مخې سره ورته او د يوې مشترکې سيمې بيان دی، نو ځکه هانري والټر بيليو پښتونخوا د حدودو له مخې له «روه» او پکتيا» سره يوشان ګڼي او د سليمان او سپين غر ټولې اړوندې سيمې له سند (اباسين) نيولې تر کابل، لوګر او هلمند پورې په کې شاملې ګڼي. (۷: ۴۰-۴۲مخونه)

د تاريخ پلار هرودوت په پنځمه قبل الميلاد پېړۍ کې د پکتي يا پکتيس او پکتويس (پښتنو) د قوم او د دوی د وطن (پکتيکا) او پکتيا يادونه کوي. د هرودوت «پکتيکا» يا «پښتيخا» په جغرافيايي لحاظ کټ مټ د نننۍ «پښتونخوا» ځمکه په کې راځي. (۹: ۱۱۱-۱۱۲ مخونه)

افغان مؤرخ اکاډميسين ډاکتر جاويد د «روه» په اړه داسې ليکي: «روه نام ديگر بخشی از سرزمين ماست که بنابر اطلاق جزء بر کُل بمعنای گسترده و وسيع بکار رفته است. چنانکه بدايونی گويد: «روه» عبارت از افغانستان است. (۵: ۱۰۵ مخ)

پښتونخوا هم زموږ د هېواد يو له تاريخي نومونو څخه و او د آريانا په قلمرو کې شامله سيمه وه. له هرودوت وروسته په اسلامي دوره کې ښکارندوی بن احمد چې پلار يې د غوريانو د واکمنۍ پر مهال د فيروز کوه کوتوال و پر ۱۱۸۰م.کال د سلطان معز الدين محمد غوري د ستاينې په قصيده کې د پښتونخوا کلمه په لاندې بڼه استعمال کړه:

پښتونخا ښکلي زلمي چې زغلي هند ته
نـــو آغلیـــه پېغلـــې کانـــدي اتڼونـــه

دغه راز سلیمان ماکو په خپل اثر (تذکرة الاولیأ ۱۲۱۵م.) کې دوه ځلې د پښتونخوا کلمه د (واو) په حذفولو سره «پښتنخا» کښلې ده. (۹: ۱-۳ مخونه)

د افغانستان نوم د افغانانو د اصلي ټاټوبي په نامه زموږ د هېـواد پـه تـاریخ کې اوږده ریښه او مخینه لـري او پـه نولسـمه مـیلادي پېړۍ کـې یـې د یـوه سیاسي واحـد پـه توګـه د آریانـا او خراسـان ځـای ونیـو. افغانسـتان یعنـې د افغانـانو د هېـواد نـوم د خراسـان تـر څنـګ رواج و، خـو د افغـان نـوم د ابـو ریحان البیروني په قول چې د سانسکریت په ژبه پوهېده د ویدي دورې نـوم دی او د هندي آریایانو د «مهاباراته» په اثر کې چې په ۱۲۰۰ق.م. پېړۍ کـې کښـل شـوی د «اسـواکا» او «اسـوه غانـا» پـه بڼـه راغلـی دی. د سانسـکریت «اوغانا» او «اسوه غانا» او د وارا هامیرا په اثر (برى هت سمهیتا) کـې «اوګانـا» او «اوغانا» د افغان د تاریخي نامه لرغونې بڼې دي.

دغه راز یوناني جغرافیه پوه پلیني (۲۳ میلادي کـې وفـات شـوی دی) د افغان نوم د «اسپه ګان» او «اسپه غان» په بڼه ذکر کړی او جرمني مؤرخ لیسن دپلیني اسپه غان د افغان له نامه سره یوشان ګڼي.

د سانسکریت له منابعو څخه وروسته په ساساني منابعو کې، د بېلګـې پـه توګه د لومړي شاپور (۲۶۰-۲۷۳م.) او درېیم شـاپور (۳۰۹-۳۷۹م.) پـه ډېـرو لیکونو کې د افغان نوم «ابګان» او «اپګان» په بڼـه کښـل شـوی دی. چینـایي سیلاني هوین تسنګ چې د ۶۲۹-۶۴۴ میلادي کلونو تـرمنځ د افغانسـتان لـه لارې هند ته تګ او راتګ کړی و د افغان نـوم آپـوکین پـه بڼـه لیکلـی دی. (۱۰: ۵-۸ مخونه)

په اسلامي دوره کې د غزنویانو د دربار مؤرخ او لوی متفکر ابو ریحان

البیروني (۹۷۲- ۱۰۳۵م.) لومړنی مؤرخ دی چې په خپل اثر «کتاب الهند ۴۲۳هـ.ق.» کې یې د افغانانو هېواد د «افغانستان» په نامه ونوماوه. له هغه وروسته د غزنویانو د دربار یو بل ستر قصیده لیکونکی، مسعود سعد سلمان (۴۴۸-۵۱۵هـ.ق) د افغانانو ملک د «کشور افغان» په نامه یاد کړ. (۱۱: ۴۵ مخ)

د «افغانستان» نوم د لومړي ځل لپاره د چنګېزخان لمسي- منکوخان په هغه رسمي او دولتي فرمان کې چې د هرات واکمن ملک شمس الدین کرت ته یې په ٦۴۵هـ.ق. کې ورکړ، کارولی دی او دغه فرمان په تاریخ نامه هرات کې سیفي هروي ثبت کړی دی. دغه راز یې د افغانستان نوم د بېلابېلو پېښو د بیان په ترڅ کې (۴۴) ځله د افغانستان په بڼه او (۲) ځله د اوغانستان په بڼه یاد کړی دی. (۱۲: ۲۷، ۷۴-۷۷، ۱٦۹، ۲۱۲-۲۲۴، ۲۷۰-۲۷٦، ٦۹۴-٦۹٦ مخونه)

پوهاند دکتور تړی لیکي چې معتبر اسلامي آثار راښیي چې د «افغانستان» نوم د افغانانو د ملک په مفهوم له اتلسمې میلادي پېړۍ څخه ډېر پخوا معمول و او کومه ساحه چې شمال ته د آمو تر سینده، جنوب ته د عرب د بحیرې د غاړې تر حدودو پورې، غرب ته تر کرمان او شرق ته تر حسن ابدالی پورې رسېږي، کله د هغې یوه یا بله او کله یې تقریباً ټوله برخه د «افغانستان» په نامه یاده شوې ده. (۱۴: ۲۱۲ مخ)

د چنګېز خان د یرغل له وخته (۱۲۲۱م.) بیا د ګوډ تیمور د اولادې د سلطنت د سقوط تر وخته (۱۵۰۷م.) افغانستان کابو (۴۸٦) کاله د مغولو او تیموریانو تر استبدادي واکمنیو لاندې راغلی و، خو د شپاړسمې میلادي پېړۍ له پیله بیا تر هوتکي پاڅون (۱۷۰۷م.) پورې افغانستان د ایران د صفویانو، د ماوراء النهر د شیبانیانو او په کابل کې د ظهیر الدین محمد بابر تر منځ په دریو برخو وېشل شوی و، خو په ۱۷۰۷م. کې د میرویس نیکه او

په ۱۷۴۷م. کې د احمدشاه بابا په مشرۍ افغانستان نه یوازې یو خپلواک هېواد وګرځېد، بلکې د لویې دراني امپراتورۍ خاوند شو. د احمد شاه بابا لوی خدمت په دې کې و چې هغه د لرغونې آریانا تاریخي سرحدونه یو ځل بیا احیا کړل او د ګانکوفسکي په قول په ۱۷۶۱م. کې د درانۍ امپراتورۍ مساحت څه د پاسه دوه ملیونه کیلومتره مربع و. (۱۵: ۱ مخ)

د احمد شاه بابا له وخت نه را دې خوا ته د افغانستان نوم، مسلماً په داسې یوه هېواد باندې اطلاق شوی چې ځانته مشخص سیاسي سرحدونه یې درلودل، خو دا سرحدونه وروسته بیا بیا د استعمارګرو د توطیو، زور او فشار په نتیجه کې بدل شوي دي. د نولسمې میلادي پېړۍ په وروستیو وختونو (۱۸۹۱م.) کې انګرېز هانري والټر بیلیو د افغانستان حدود داسې ښودلي:

«ختیځ ته د افغانستان سرحد اباسیند دی او له ګلګت څخه د (عربو) تر بحیرې پورې امتداد لري؛ جنوب ته یې سرحد د عربو بحیره ده؛ غرب ته یې سرحد د پارس له کرمان او خراسان سره نښتی دی؛ شمال ته یې سرحد تر خواجه صالح پورې د آمو سیند دی او ورپسې د خوارزم په دښته کې تېرېږي او د پارس خراسان ته ځي.» (۱۴: ۲۳۰ مخ)

د اوسني افغانستان شمالي سرحدونه له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان جمهوریتونو سره د ۱۸۸۸ کیلو مترو په اوږدوالي غزېدلي او ګډه پوله جوړوي. افغانستان په جنوب او ختیځ کې د ډیورنډ استعماري او فرضي کرښې په وسیله د پاکستان له اسلامي جمهوریت سره تقریباً د ۲۰۰۰ کیلومتره په اندازه سرحد لري (خو نورې منابع د ډیورنډ لاین اوږدوالی له دې اندازې زیات او مختلف ښیي. د تعلیقاتو برخه وګورئ)، د افغانستان په لوېدیځ کې د ۵۰۰ کیلومترو په اوږدوالي د ایران اسلامي جمهوریت پروت

دی. په شمال ختیځ کې د (۸۵) کیلومترو په اوږدوالي د چین له ولسي-جمهوریت سره ګډه پوله لري. (۱٦: ۴ مخ)

په پای کې باید ووایو چې افغانستان نه یوازې په سیمه کې لرغونی هېواد و او دی، بلکې د جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت په لحاظ د تاریخ په مختلفو دورو کې له تمدني، تهذیبي، اقتصادي او سیاسي پلوه د سیمې او نړۍ مهم کانون او د نښلولو، راشې درشې او د سوداګرۍ څلورلاری و. افغانستان د تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو لاملونو له امله کله د لویو امپراتوریو زانګو او کله هم په کوچنیو حدودو کې را ایسار شوی، خو له پیله بیا تر اوسه یې خپل سیاسي هویت ساتلی او د یو خپلواک سیاسي هویت په توګه د اسیایي هېوادونو تر منځ د سیاسي او اقتصادي متقابلو اړیکود ساتونکي هېواد په توګه پاتې شوی دی.

**ماخذونه**


۱. غبار، میر غلام محمد، افغانستان به یک نظر، کابل، ۱۳۲٦.

۲. عظیمي، محمد عظیم، مدخلی بر جغرافیایی سیاسی افغانستان، چاپ دوم، کابل: انتشارات خراسان قدیم، ۱۳۹٦.

۳. کهزاد، علي احمد، افغانستان در شهنامه، چاپ سوم، کابل: انتشارات امیری، ۱۳۹۵.

٤. خیبري، غوث، د لوی افغان تاریخ، دویم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴.

۵. جاوید، اکاډمیسن دکتر عبدالاحمد، اوستا، چاپ دوم، کابل: مطبعه، ۱۳۸۳.

٦. دهخدا، علی اکبر، لغت نامه دهخدا، جلد هفتم، تهران: موسسه لغت نامه دهخدا، ۱۳۷۷.

٧. ځدران، محمد شریف، پښتانه په تاریخي اثارو کې، کابل: چهاردهي مطبعه، ۱۴۰۰.

٨. کهزاد، احمد علی، د افغانستان پخوانی تاریخ، لومړی ټوک، د افغانستان د تاریخ ټولنه، کاپل، ۱۳۳۴.

٩. ځدران، محمد شریف، د برتانوي او پاکستاني استعمارګرو پر ضد د پښتنو او بلوڅو د مبارزو تاریخ، کابل: چهاردهي مطبعه، ۱۳۹۹.

١٠. ځدران، محمد شریف، پښتانه د تاریخ په بهیر کې، دویم ټوک، کابل: چهاردهي مطبعه، ۱۴۰۰.

١١. ځدران، محمد شریف، پښتانه د تاریخ په بهیر کې، لومړی ټوک، کابل: شمشاد هاشمي مطبعه، ۱۳۹۷.

١٢. هروي، سیف بن محمد، تاریخ نامه هرات، کلکته، ګلشن فسټ چاپخونه، ۱۹۴۳.

١٣. کاکړ، محمد حسن، پښتون، افغان، افغانستان، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰.

١٤. ترِی، حبیب الله، پښتانه، پېښور: دانش کتابخانه، ۱۳۷۷.

١٥. ګانکوفسکي، یو. و. د درانیانو امپراتوري، په پښتو د دوکتور ګل محمد نورزي ژباړه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۵۷.

١٦. صافی، لطف الله، د افغانستان عمومي جغرافیا، د اریک د ګرځنده

کتابتونونو اداره، پېښور، د سید جمال الدین افغاني مطبعه، ۱۳۷۷.
۱۷. رحمتي، محب الله، اختصار از جغرافیاي عمومي افغانستان، دویم چاپ، پېښور: حلیمي پرنتنګ ایجنسي، ۱۹۹۹.